بسم الله الرحمن الرحيم

## ټرامپ غل، یرغلګر، خاین، متعصب او فرېبکار سړی دی

**(ژباړه)**

### خبر

د ولسشمر ټرامپ پخواني وکیل مایکل کوهن د (د ټرامپ پخواني وکیل ریښتینی داستان) په نامه یو کتاب، چې څه موده مخکې یې د ټرامپ اداري د پټ ساتلو هڅه کړې وه، خپور کړ.

### تبصره

دا هغه څه دي، چې ټرامپ یې په خپل عمر کې پر مخ وړي او د ۲۰۱٦م، په ټاکنو کې یې د بریا لپاره اړتیا ورته درلوده. مکار، درواغجن، بد اخلاقه، متعصب، یرغلګر او خاین هغه لقبونه دي، چې د ټرامپ پخواني وکیل مایکل کوهن هغه ته کارولي دي. د مایکل کوهن پوره افکار او نظریات به د ۲۰۲۰م، له ټاکنو څخه دوه میاشتې مخکې یعنې په سپټمبر کې خپاره شي.

د 2016م، د ټاکنو موضوع، چې ټرامپ لا تر اوسه پرې ولاړ دی؛ د روسیې لاسوهنه او ورسره د ټرامپ هوکړې دي. په دغه کتاب کې ادعا شوې چې د روسیې او ټرامپ تر منځ هوکړې شوي او دغه هوکړې لکه څنګه چې د ټرامپ مخالفین فکر کوي، د ترړون په شکل نه دي او پر دې هم پوهېږو چې د مولر څېړنې په ځای او هر اړخیزې نه وې. له شک پرته ټرامپ د ۲۰۱٦م، د ټاکنو په هوکړه کې له روسیې سره خیانت کړی او وروسته به د کتاب په پاڼو کې  ښکاره شي، چې له قدرت پرته نور څه ورته مهم دي. د کوهن د خبرو له مخې؛ ټرمپ هڅه کړې چې ځان د مفسدو میلیاردرانو له ډلې وباسي او ځان پاک وښيي. زه ښه پوهېږم ځکه په څو معاملو کې یې وکیل وم. ټرمپ او زامن به مې یې تل له دغه خبرې خبرول. کله چې د ټاکنو نوماند ښاغلي ټرامپ په لوړ غږ د امریکا ملت ته ویل: «کوم ترړون له روسیې سره نشته او زه هېڅ معامله او اړیکه ور سره نه لرم...»

همدارنګه کوهن په خپل کتاب کې د ټرامپ له شخصي ژوند او تجارت څخه هم پرده پورته کړې. چا چې د هغه په استازولۍ پرېکړه کوله، وژل کېدل به. د تجارت شریکان یې ټول برمته شول، خپلې مېرمنې میلانیا ته یې د خیانت او نا مشروع جنسي اړیکو په اړه درواغ ویلي او کوم خنډونه چې د ده پر وړاندې و، د مرګ په وسیله یې لرې کړې دي. دا چې کوهن ولې داسې خیانتونه ښکاره کړي، د دې لپاره چې هغه  ټرامپ ته نږدې کس و او له ټولو معاملو او خیانتونو څخه یې خبر و. زموږ موبایلونه اړیکې او سرلیکونه ذخیره کوي، زما دنده هم ټول

وخت د ټرامپ له پانګوالو څخه غټې او وړې غوښتنې وې او په دې تړاو به مې تل  توضیحات ورکول چې هېڅ حد يې نه درلود.

پخپله کوهن له ټرامپ سره په فساد کې ښکېل و او د سنا جرګې ته يې د خپلې ګناه په اړه درواغ ويلي و او په ۲۰۱۸م، کې يې ځينې جرمونه هم ترسره کړې و، چې له همدې امله په درې کاله بند محکوم شو. د کوهن د بند نېټه د کرونا له وجې ژر پای ته ورسېده. خو بيا هم ښاغلی کوهن بيا ځلې تر پوښتنې لاندې راغی، ځکه د ټرامپ حکومت غوښتل چې  خپل غچ د ياد کتاب د خپرولو له امله واخلي.  په همدې دليل قاضي د کوهن د قضيې له سره نيول تاييد کړل خو وروسته له کمې مودې يې د خوشې کېدو پرېکړه اعلان شوه. د کوهن قضيه او تجربه د امريکا په عدالت کې روښانه تناقض ښکاره کوي. بله تجربه د يو بل امريکايي الاصله افريقايي وګړي ده، چې په ۱۹۹۷م، کې يې په تموز کې د حشائش د غلا له  امله د ليوزونا په محکمه کې  په ابدي بند محکومېږي.

کله چې کوهن په اسانۍ له ټرامپ سره په فساد کې شريک کېدای شي او په  کتاب کې يې خبرې هم و کړې، نو بيا به پخپله ټرامپ څرنګه وي!؟ ټرامپ له قانون څخه لوړ دی او په درواغو او خيانت هر کله کولای شي چې ځان د قانون له منګلو وژغوري، دغه راز سياسي حزب يې هم ملاتړی دی.

**ليکوال: عبد الله روبين**

**ژباړن: الهام پردېس**

**جمله**: ټرامپ له قانون څخه لوړ دی او په درواغو او خيانت سره هر وخت کولای شي ځان د قانون له منګلو وژغوري، دغه راز سياسي حزب يې هم ملاتړی دی.